UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو او د رسنیو د مسلکي کارکونکو وژنه - د ملګرو ملتونو نوی رپوټ**

**کابل، د ۲۰۲۱ کال د فبرورۍ ۱۵ مه** - د ۲۰۲۰ کال له سپټمبر را وروسته موده چې د افغانستان د سولې خبرې اترې پکې پیل شوې، د پام وړ شمېر د بشري حقونو د مدافعینو او خبري رسنیو د مسلکي کارکونکو د وژل کېدو شاهده وه. د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) لخوا یو نوی رپوټ چې نن خپور شو د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ له لومړۍ د ۲۰۲۱ د جنورۍ تر۳۱ مې نیټې پورې موده کې په وژنو پورې اړوند معلومات او رجحانات تجزیه او تحلیل کړیدي. رپوټ د مدني ټولنې په دغو مهمو سکټورونو کې د بریدونو د نمونو بدلون په نښه کړی او سپارښتنې یې کړیدي.

د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې چې د سولې خبرې اترې پیل شوې، د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ تر۳۱ مې پورې د بشري حقونو ۱۱ مدافعین او د رسنیو کارکونکي په هدفي بریدونو کې وژل شویدي. د مسوولیت له نه منلو سره یوځای دغه مخ پورته تلونکي بهیر، په خلکو کې د ویرې فضا رامنځ ته کړې.

په نتیجه کې یې د رسنیو او بشري حقونو فضا تنګه شوې او د رسنیو ډېرو کارکونکو په خپلو کارونو کې له خود سانسورۍ کار اخیستی، خپلې دندې یې پرېښې دي او د خپل خوندیتوب په هیله یې خپل کورونه او سیمې خوشې کړیدي. د یوشمېر نوم وتو اشخاصو په ګډون، ډېرو هیواد پرې ایښې دی. دغو وژنو د ټولنې په کچه پراخ اغیز لرلی دی او همدارنګه د سولې د هڅو په تړاو یې هیلې کمې کړیدي.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې دیبرا لاینز وویل: "افغانان یوې غوړېدلې مدني فضا ته اړتیا لري او مستحق یې دي – یوه داسې ټولنه چې خلک پکې له ویرې پرته په ازاد ډول فکر وکولی شي، خپل نظر په ډاګه او ولیکلی شي." ځانګړې استازې چې د یوناما مشره هم ده زیاته کړه: " د بشري حقونو د مدافعینو او رسنیو غږ د هرې پرانیستې او متمدنې ټولنې لپاره مهم دی. په داسې وخت کې چې د خبرو اترو له لارې د جګړې د پای ته رسولو او د سیاسي جوړ جاړي پر رامنځ ته کېدو ټینګار کیږي، اړتیا ده چې تر بل هر وخت ډېر د بشري حقونو او رسنیو غږونه واورېدل شي نه دا چې خاموشه کړل شي."

په افغانستان کې درسنیو او بشري حقونو د سکټورونو پر استازو بریدونه، کومه نوې موضوع نه ده، خو لکه چې په رپوټ کې مستند شوي د وژنو په ډول کې مشخص بدلون راغلی دی. په دې وروستی ځېه کې، په قصدي او له وړاندې پلان شوي ډول د افرادو په نښه کول دي، چې د تیرو کلونو پر خلاف یې ترسره کونکي ناپیژانده پاته شویدي.

دغه وژنې په عمده ډول د وسله والو ډلو د برید ځای ته د اشخاصو د نږدې والي له امله وې، په ځانګړي ډول د اسلامي دولت خراسان څانګه (ISIL-KP)، چې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي کاروي.

رپوټ د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ له لومړۍ د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ تر۳۱ مې د بشري حقونو د مدافعینو او رسنیو د ۶۵ کارکونکو وژل ثبت کړي چې په دې ډله کې ۳۲ د بشري حقونو د سکټور او ۳۳ تنه یې د رسنیو د برخې دي. له دوی څخه ۱۱ (۵ تنه د بشري حقونو مدافعین او ۶ تنه د رسنیوفعالین) یوازې د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له لومړۍ د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ تر۳۱مې د څلورو میاشتو په موده کې وژل شویدي.

رپوټ همدانګه په ډاګه کوي چې د بشري حقونو مدافعین، ژورنالیستان او د رسنیو کارکونکي چې غواړي د افغانستان خلکو ته (د بشري حقونو او د بشردوستانه حقونو له نړیوال قانون څخه د سرغړونو په ګډون) د یولړ پراخو مسلو په اړه پروخت معلومات وړاندې کړي، تردېره له ګواښونو، ویروني، ځوروني، پلټني او خپلسري توقیفونو سره مخامخ دي.

دغه رپورټ ټینګار کوي چې ددغه ډول وژنو او ډار په مخنیوي، د حساب کتاب په پیاوړي کولو او د معافیت د مخنیوي په برخه کې ټول اړخونه یو مهم رول لوبولی شي. د وژنو په تړاو تحقیقات باید په بې پرې، خپلواک، عاجل، اغیزمن، باوري او روښانه ډول ترسره شي. د شکمنو عاملینو محاکمه باید په مناسب ډول د عادلانه محاکمې د معیارونو پراساس ترسره شي. د رسنیو او مدني ټولنو د رول پر وړاندې د کارول شویو بیانونو، او یا د افشا کونکو تهدیدول او یا یې په وړاندې ګام پورته کول او د " هدفي لستونو " خپرول د دا ډول وضیعت له دوام سره مرسته کوي چې په هغه کې مدني فضا نوره هم تنګه او پرځلکو، په خاص ډول د بشري حقونو په مدافعینو او د رسنیو پرکارکونکو ناوړه اغیزې پرېباسي.

په رپورټ کې دولتي او غیر دولتي کارکونکو ته یو لړ سپارښتنې شوي:

**دافغانستان حکومت ته**

- د وروستي ګډ کمیسیون د رامنځته کولو په دوام، د بشري حقونو د مدافعینو د خوندیتوب په خاطر د افغانستان د ولسمشر د دویم مرستیال په مشري د ملي خوندیتوب یو اغیزمن او همغږی مکانیزم فعالول.
- د ځانګړي خوندیتوب او امنیتي تدبیرونو په ګډون، د هغو بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکو لپاره چې د ګواښونو او د ارعاب نورو ډولونو سره مخ شوي دي، د یوه کافي وقایوي کارې چوکاټ رامنځته کول.
- ډاډ تر لاسه کول چې د بشري حقونو مدافعین، ژورنالیستان او د رسنیو کارکوونکې خپل د ژوند د مشروع حقونو، د راټولیدو ازادي، د بیان ازادي او معالوماتو ته د لاسرسي ازادي او همدارنګه د نورو بنسټیزو ازادیګانو څخه، د غچ او یا د برید د ډار څخه پرته، برخمن وي.
- د وژنو د قضیو د خپلواک، بېطرفه، بېړني، کره، اغیزمنه، معتبره او روڼ تحقیقاتو په ګډون، د معافیت په وړاندې مبارزه کول.
- د هدفي وژنو د مظنون مرتکبینو د عدلي تعقیب په ګډون چې په هغه کې نړیواله قانوني پروسه او د عادلانه محاکمې معیارونه په جدي ډول سره رعایت شوي وي، د یوې روښانه حساب ورکوني ترویجول.
- د تجمع یا راټولیدو د ازادي او د بیان ازادي په وړاندې د محدود کوونکو قوانینو د تدوین څخه ډډه کول او همدارنګه په هغه مدني چاپېریال کې چېرته چې د عامه ګفتمانونو څخه د غیر ضروري ننګونو او یا په نښه کیدو له امله مخنیوی کیږي په ګډون، د یوه مدني چاپېریال خوندي کول او ترویجول.

**غیر دولتي اړخونو ته**

- د بشر پالني نړیوال قانون او د بشري حقونو نړیوال قانون سره سم، د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکو د وژنو بندول.

**طالبانو ته**

- د مشرتابه په کچه د بشري حقونو مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو کارکوونکو د وژنو د پېښو په کلکه غندل.
- د هغو قضیو تحقیق چیرته چې د طالبانو پرغړو باندې په قضیه کې د لاس درلودلو ادعا شوې وي، او د طالبانو د غړو چې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو، او د رسنیوکارکوونکو په وړاندې د هدفي وژنې امر ورکړی او یا امر یې پلې کړی دی، حسابورکولو ته اړایستل.


— د بشري حقونو مدافعینو، ژورنالیستانو او د رسنیو د کارکوونکو په وړاندې د هغو د هدفي وژنو د منع کولو په موخه د پالیسیګانو تدوین، خپرول او انفاذ.
— د موجوده پالیسیګانو منسوخول (د نویو پالیسیګانو د تدوین څخه امتناع) کوم چې د تجمع یا راټولیدو ازادي د مدني ټولنو او د بشري مرستو د فعالینو کار او د بیان د ازادي په ګډون، مدني چاپیریال محدودوي.

**نړیوالې ټولنې ته**

— د یو متحد، خپلواک، سوله ییز او دیموکراتیک افغانستان لپاره، د ۲۰۲۰ کال د نومبر د میاشتې په ۲۴ نیټه د افغانستان په اړوند د ژنو په کنفرانس کې د تدوین شوي اعلامیې سره سم، د بشري حقونو د مدافعینو او د خپلواکو رسنیو د مهمې ونډې د واضح کولو کار ته دوام ورکول.
— د ګواښ سره مخ شوي د بشري حقونو مدافعینو، ژورنالستانو او  د رسنیو کارکوونکو سره دوامداره تعامل او د هغو پروګرامونو سره مرسته زیاتول کوم چې دوي ته د امنیت، سفر، مالي کمک، د ظرفیت رامنځته کول او نورې مرستې چمتو کوي.

**د پیښو د دول پر بنسټ د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالستانو او د رسنیو د کارکوونکو وژنه**


۲۰۱۸، جنوري ۱ تر ۲۰۲۱ جنوري ۳۱






UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د قربانیانو پر بنسټ کلنی مقایسه**
۲۰۱۸ جنوری ۱ تر ۲۰۲۱ جنوری ۳۱




ریورټ دلته ولولئ:

https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

* * *

*یوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره ملاتړ کوي. د سیاسي ماموریت په توګه له خپل ماموریت سره سم، یوناما د شخړې مخنیوی او حل، د ونډې اخیستنې د زیاتیدو او ټولنیز یووالي او همدارنګه د سیمه ییزو همکاریو د پیاوړتیا ملاتړ کوي. دا ماموریت د اغیزمنې حکومتدارۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. یوناما د استقلالیت، بې پرې والي او یوالي د اصل په پام کې نیولو سره د ډیپلماتیکو اقداماتو په کڅون د شخړو د زیاتیدو او پراخیدو دمخنیوي په موخه ' د ښه نیت چارې' او نور کلیدي خدمتونه برابروي. دا ماموریت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوالې مرستې همغږې کوي.*